## د کتاب ځانګړني:

د کتاب نوم : شنه وتره
شاعر : مبارز ثاپی
کمپوز او ډیزاین : عبدالهادي اثر
چاپ کال : ۱۳۹۱ل
چاپشمېر : ۱۰۰۰
د خپرونو لړ : (۱۴۰)
چاپځی : اسد دانش مطبعه/ ۰۷۸۸۰۴۲۸۲۱

د چاپ حقوق خوندي دي.

## ډالـــــــۍ

د هغوی په نامه، چې د خپل ولس په مینه کې له سره ځار ېږي.
مبارز (ثاپی)

# مـنـاجـات

يه ! ښځښتنه د هسکونو
يه ! خاونده د برمونو
ټول د تا په لمانځه بوخت دي
يه ! منونکيه د لمنځونو
زړه مې بيا په چيغو ژاړي
بيا له تانه مرسته غواړي
ته يې اورې او که يه؟
ځمکه ټيټه ده له ښېلمې
خو هسکونه يې وچت
دا بې رنګه خړه خاوره
په رنګونو کې لت پت
له دې خړې پړې خاورې
هر رنګ ژوي پنځېدلي
رنګ په رنګه ونې بوټي
هم په کې دي ټوکېدلي
په کې شته دي لا پسې هم
هڅېدنې، پاڅېدنې

یو په لوړ بل په ژوره
لا ختنې، پرېوتنې
د مرګي او د ژوند راز
په رنګونو کې آغاز
یه ! څښتن د دې رازونو
یه ! خاوند د آغازونو
زړه مې بیا په چیغو ژاړي
بیا له تانه مرسته غواړي
ته یې اورې او که یه !
د یوې ښځې له نسه
د یوه سړي له پښته
که سړي بولي سړي دي
که وګړي له پنځښته
تا په ګنډو دي وېشلي
پېژندنې له ارزښته
په هر خبل دې جلا کړي
نومیالي د نوم په رښته
هر تبر ته دې ورکړي

خپله ژبه خوږه ژبته
پښتانه هم په کې شماره
ښه نېکمرغه ښه نېک بخته
که يې سيال کړې د سيالانو
هم له بخته هم له تخته
يه ! ښوونکيه د نومونو
جوړوونکيه د خپلونو
زړه مې بيا په چيغو ژاړي
بيا له تانه مرسته غواړي
ته يې اورې او که يه؟
زور زياتی دی پنځولی
سوله روغه دی منلی
ورور د ورور په دښمنۍ کې
زوی هم پلار دی خپل وژلی
يو دې زيات په زور غښتلی
بل دې زور نه غورځولی
يو دې لوړ په ونه کړی
بل دې ټيټ دی ګرځولی

يو دی لوړېږي نری کړی
بل مړخت دی پړسولی
يو ناروغه ژوندانه کې
بل دې روغ رمټ ساتلی
يو دې کړ بې زويه لوره
بل ته ګڼ ځوځات ببښلی
يه ! خالقه ددې کړنو
ددې کړنو د لاسونو
زړه مې بيا په چيغو ژاړي
بيا له تانه مرسته غواړي
ته يې اورې او که نه؟
زور زياتی چې نه کولو
تا هغوی به ښه ستايلو
چا چې زغم به کړلو غوره
تر بري دې رسولو
مينه زغم د هر وګړي
د پايښت په لور د تللو
هر زغمونکي شو استازی

د نېکمرغه ژوند لرلو
تا ښکلا د ژوند کړه سوله
روغه، جوړه د منلو
سوکالي او سمسورتیا هم
شوه د سولې په پاللو
له پرون څخه تر ننه
د ګانده د غم خوړلو
یه ! ځښتنه د زغمونو
یه ! خاوند د پاینښتونو
زړه مې بیا په چیغو ژاړي
بیا له تانه مرسته غواړي
ته یې اورې او که یه؟
د تروړلیو هیلې تروړي
د هیلو لمنې نغاړي
د ابلیس سپي دي راغلي
هر بیوزله ولس داړي
چې د پېښو مخه ډب شي
یو د مینې لاربنود غواړي

ډېر بې نومه شهیدان شول
کوراو کلي پسې ژاړي
لا هم سوځي په لمبو کې
په هر رنګه بهانو کې
چا یې غږ په غوږ وانه ورېد
دنیاومند په استانو کې
لا هر څوک تورونه وایي
ډکو ډکو پیمانو کې
یه ! نیاومن د ولسونو
مرستندوی د ټبرونو
زړه مې بیا په چیغو ژاړي
بیا له تانه مرسته غواړي
تا یې اورې او که یه؟
هابیلیان یې چې وژلي
د قابیل ځوځات راغلي
د بابل له هسکه څلي
نر ماشوم پر ځمکه ولي
د نمرود د اور لمبو ته

د مهال براهیمان بولي
د فرعون لښکرې ګوره
په موسی پسې ورځغلي
د عیسی په لیاره تلونکي
پر صلیب دي ځړېدلي
چې بودا له برمه پرېوت
سولې، روغې پرځېدلي
چېرته؟ څوک؟ لکه بلال
د آذان پر بام ختلي
یه ! څښتن د آذانونو
یه ! خاونده د بامونو
زړه مې بیا په چیغو ژاړي
بیا له تانه مرسته غواړي
ته یې اورې او که یه؟

موده وشوه پښتانه هم
په بېدیا کې آواره دي
د جګړو د اور د لاسه
په ژړا او په ناره دي

هرې خواته د دې سیمې
په ټوټو اره اره دي
بیا د تا له ستره واکه
په غوښتنه د چاره دي
د یو ستر ولس په توګه
ښه په سیمه او ښاره دي
ورته وښه یو والی
د میلیونو په شماره دي
بیا یې ټول په یو مرکز کړه
کوم په سیمه کې ښکاره دي
یه ! منونکیه د غوښتونو
یه ! بښونکیه د واکونو
زړه مې بیا په چیغو ژاړي
بیا له تانه مرسته غواړي
ته یې اورې او که یه؟
توري شپې دي اوږدې شوي
د غم ستر ګې برندې شوي
پلوشې د رڼا ګانو
د ګهیځ دي ړندې شوي

د دوزخ په لورې تګ
رنګ په رنګ ګړندي شوي
فردوس نه ښکاري په سترګو
د تګ لیارې بندې شوي
د تورمخیو د شامته
لیارې کندې کندې شوي
د برې په لور ګامونه
د هر تن غړندی شوي
هره هڅه په هر ګام کې
د هر ژوي زندی شوي
یه ! خاوند د ګهیځونو
یه ! ځښتنه د لمرونو
زړه مې بیا په چیغو ژاړي
بیا له تانه مرسته غواړي
ته یې اورې او که یه؟
مورږ غوښتونکي د یووالي
هیله من د غښتلوالي
چې روان پر سمه لار شو
د ولس د سمون والي

په جرګو او مرکو کې
ستر سمبول د پښتونوالي
د نړۍ تر هرې برخې
نوميالي په سوله والي
ستا د نوم له لوړه هسکه
په ښکلا د مينه والي
ژوند رنګينه د (ځاپي) کړه
په نومونو د نوميالي
له نن ورځې تر قيامته
تل به ستا يو ستاينوالي
يه ! څښتنه د حشرونو
يه ! خاوند د قيامتونو
زړه مې بيا په چيغو ژاړي
بيا له تانه مرسته غواړي
ته يې اورې او که يه؟

*****

# رارسېدلی لیک

سلام او ښې چارې یه وروره زما
واوره خبر له هره لوره زما

زړه مې د ننه په ګوګل کې ناڅي
دا ستا په یاد د سترګو توره زما

وروځې، لېمه، بانه رپېږي درته
واخله خبر له څار او څوره زما

تندی دی تول تېر روښانه پرتا
د پلار د سوړ نغري اوره زما

په ژوندانه کې د روغتیا او برې
په دعا یاد د پلار او موره زما

د تا په شان هم بېلتانه وړېدې
که یې خبر له وروره او خوره زما

له سوچ او فکر نه به هېر شي کله؟
وړې بېلتون غړې له کوره زما

د زمانې په بېوفا پېښو کې
څه یې خبر له تور او بوره زما

دلته د ټول ټبر ترمينځ که پوښتي
له هره چا ده برخه نوره زما
(۲)
ما خو تکل کړی چې تا وګورم
تا سره هم يو بل اشنا وګورم
په پردي ښار او په پردي هېواد کې
ستا سو خوښي ستا سو خندا وګورم
په راشه درشه د دوستانو ترمينځ
خوارېه د مينې د وفا وګورم
خپلو دوستانو په ليدنو کې هم
د هاغې سيمې ښه ښکلا وګورم
په چاپېريال د بېلتانه غمونو
د پردېسۍ د ژوند هوا وګورم
زړې خپې د خاطرو مې د ژوند
دا ستاسو مينځ کې يو ځل بيا وګورم
ستا سو د ژوند په ورځني چارو کې
خوارېه، تراخه لا خوا په خوا وګورم
په دې تکل مې دغه ليک ليکلی

ځو اروپا او امريکا وګورم
وايه چې ستا (ځاپې) نظر څنګه دي؟
زاړه ياران به په رښتيا وګورم؟

ځواب

(۱)

زه د ښېلتون د اور لمبو کې وسوم
ته غوارې راشې اروپا وګورې
په خوله خبره د دوستانو کوې
په زړه کې هوډ چې امريکا وګورې
راځه زر وارې په دې لياره راشه
دلته به ته هر څه زما وګورې
تا ته به زه ښه هر کلي ووايم
ته به هم هر څه د هر چا و ګورې
د پردېسۍ او د ښېلتون غمونه
زمونږ د ژوند په هره خوا وګورې
(هر چا ته خپل وطن کشمير دی) کنه
دغه متل به په رښتيا وګورې
که خواره ډېر دي، تراخه هم ډېر

د ژوند غمونه به بلا وګورې
په پاکو کليو او کورونو کې به
زړونه ناولي د هر چا وګوري
سوځي په اور کې د روخي اندونه
که ودانۍ د اروپا وګورې

(۲)

وروراو تر بور به وي زمور د کلي
خو په چوپړ کې د اغيارو تللي
هېواد شو کنډ کپر لا ستړي نه دي
چا چې ودکا او که ويسکي نوشلي
هغوی به څنګه ودانی وکاندي؟
چا چې بچيان د خپل هېواد وژلي
هغوی به څرنګه باور وکتي؟
چا چې کاسې لا هم د دال څټلي
هلته سياست او د مذهب لاسونه
پرمخ د ځمکې کې هر څه سېځلي
چارې د دين دي له هرچانه پاتې
په نوم د خدای دي ټول شيطان بللي

تر بيرغ لاندې د افغان په نامه
هاغه به کېږي چې دښمن ویلي
د وروړ ولیۍ او د اسلام په نامه
د هر دښمن په توغندو مو ولي
په ټوله ځمکه کې دې اور بل شوی
په ړندو سترګو دې هر چا کتلي
(۳)
دلته سیاست او د مذهب چارواکو
هرڅه په مینځ کې د خپل ځان وېشلي
هر یو واکمن د سیاست او مذهب
د خپل هېواد ټول نوامیس منلي
هر یو په خپله دی بسیا برخه کې
څنګه قانون چې هم روا ګڼلي
د ملا خېټه ده مړه له هر چا
چړې ته هرڅه لا هرچا بښلي
وزیر، رئیس، مشر مامور که ګورې
لا له هر چا نه معتبر ختلي
یو د جرګې بل دې لمانځنې کار ته

هر يو په وار خپل هېواد وال بللي
هيڅوک د چا سره بدي نه کاندي
ټول خو په ليار د قناعت کې تللي
کار په سيالي کې د اندونو کېږي
ټول دي په پړي د قانون تړلي
چا د وطن په لوري هيڅ کله هم
نه دي په سترګو د بدۍ کتلي

(۴)

هلته خو ټول خوار د برکي ولس مو
په اسکيرلي توګه لوږه کې مري
په بېسدۍ کې ژوند د ټولو تېر شو
نشته دی څوک د ژوند پتهي وکري
يو لږه کۍ دې د مړښت لپاره
لاهم د بل چا په ورشو کې څري
هغوی د بل چا د شرابو په خوند
بد بد مستۍ په بد مستۍ کې لري
د ګران هېواد د ښمنانو سره
کړی تړون د ورانولو سري

په بهانو چې ما او تا ووژني
وسلې را غوارې هوايي او برې
یو ښه نيرنګ د غولولو دي دا
د خپلې ژبې نوم يې ايښى درې
د باز منګولو ته به ټينګ شي کله
د شيطانت د دام تارونه نرې
دا معجزه ده که کمال د خاورې
ښکلا خاورينه ده خو تاج يې زرې
څه دی تو پير د بې سدۍ او مستې؟
دواړه ناپوه دي له خپلې هستې

بن جرمني
۶ / ۸ / ۲۰۰۶
****

# وستل د لېونيانو

ساقي راته په مينه جام په لاس نيولی دی
راځه ! د ناز خوماره پسرلی راغلی دی
ښيښې د خمار ماتی په هر ګوټ کړو ددې جام
هستي کې مو مستي د لېونتوب ګټلې دی
جامونه په کړنګا شي چې منګی په نخا راشي
خمار يې راته ښکاري چې لا ښه سپېڅلی دی
چې زه يې کړم بې هوښه او هغه پاتې هوښيار
قانون کې خو د مينې لېونتوب ليکلی دی
هر چېرته هم په ياد دلېونيانو مېړنيانو
په برم سره ولاړ د شهيدانو ځلی دی
هيڅوک په هوښيارتيا کې نه دی مړ زموږ د سيمې
دا ټوله هديره د لېونيانو کلیٖ دی
چې څوک د لېونيانو د وستل په لور په مينه
راغلی لېونی دی لېونی هم تللی دی
ما زړه ته کړل چې چېرته لېونيانو لا وځانته
راوښيه په مينه کوم هوښيار منلی دی
زړه پړنګ شو په ژړا کې د ګيلې په توکه وويل

هوښیار ته کوم مهال چا لېونی ویلی دی؟
هوښیار په ځمکه پاتې خو د ځمکې له مداره
ښاغلی لېونی دی چې بهر وتلی دی
چې ووایي رښتیاوې په ښه لوړ آواز له هسکه
منصور غوندې مې دار ته نن (ثاپی) بللی دی
بن جرمني
۱۱ / ۹ / ۲۰۰۶
*****

## سپېڅلې مینه

خیال دې چې کله په نڅا شي زړه ته
بانه مې واړه په رپا شي زړه ته
ستا د راتللو لیارې سر له څاره
سترګې مې دواړې په ژړا شي زړه ته
شونډې او خوله، د تندي هره ګونځه
لا له حیرته په خندا شي زړه ته
وروځو، لېمو، سترګو، بڼو له څوکو
ستا د راتګ زېرې ربښتیا شي زړه ته
تللی پر لوړو نا اشناوو غرونو
چېرې د رمل کومه هوا شي زړه ته
په پردېسۍ کې یې ژړلي دي ډېر
پرېږدئ چې زړه مې بېرته را شي زړه ته
هیله ده دا د غمه ډک ګوګل مې
یو ښه انګړ د مینې بیا وشي زړه ته
بیا دې که ورتل غلیم او غماز
زما به هم کلکه ویسا شي زړه ته
د مینې لاس دې که راوغځوې

د هوسا ينې به امسا شي زړه ته
د مينانو په ټوليو کې هم
نور به روښانه نوم زما شي زړه ته
جوړ به اتڼ کړم د تنې له تنه
ستا د را تللو که تنها شي زړه ته
ته چې د مينې سوال مې هېر کړی ګلې
زما هم رنګ په رنګ سودا شي زړه ته
د مبارز (خاپي) سپېڅلي مينه
چېرې به هم يو ځل د تا شي زړه ته
بن جرمني
۶ / ۱۲ / ۲۰۰۶
*****

## مرور خیال

مرور خیال دې چې پخلا شي کله
ما ته هغه مهال بلا شي، بله
د پلو لاندې ستا په نیمو کتو
زړه به زما وایه سلا شي، څله؟
د عدالت چې په کې ټکی نه وي
څوک به یې څه کړي که طلا شي، تله
لکه د خیال د جنون وچو هیلو
که مې په زړه کې بیا ځلا شي، ځله
تا چې د زړونو کلي پاک ولوټل
د تا به کور هم لوټ په غلا شي، غله
که ورمې وشیندي ښکلا سره سم
بلبل به تا لره هم را شي، ګله
چا چې د دفتر د مینې نه وي لوستی
په ژوندانه به یې تالا شي، ډله
که مجنون لاړ شي د سارا په لوري
له ډېره غمه به لیلا شي، شله
ستا د ښو له غشو اور وربړي

وریت مې که ځان هم پرې واللّٰه شي، وله
څوک چې خپل ځان په فراغت کې ستا یي
ما ته په سترګو کې حیا شي، خپله
د مینې رنځ نه به هیڅ روغه نه شي
په تاویذونو که دې ملا شي، مله
د بېلتانه په تورو شپو کې که هم
دا ستا د مخ د لمر رڼا شي، بله
لکه پتنګ د شمعې وبه ستایم
(څاپي) که ستا په اور جلیا شي، هله

بن جرمني
۱۶ / ۱۲ / ۲۰۰۶

*****

## غوټۍ شونډې د تا

کله به سپرېږي؟
د مینې بڼ کې زما
غوټۍ شونډې د تا
غوټۍ شونډې د تا
په دښتو کې د شګو
په غرونو کې د تیږو
کلونه شول د لوږو
راځي پر له پسې
د برېږي تلوسې
له ډېرې بې وسې
چې نه راځي په شونډو
هغه موده خندا
غوټۍ شونډې د تا
غوټۍ شونډې د تا
د هسک پر هره غاړه
خوښي کاندي نڅاوي
خو برخه د غمونو

په خته کې اخښلی
زموږ د ځمکې والو
د ژوند په هر پړاو کې
د ساندو سره یو ځای
راغلې ده ښکلا
غوټۍ شونډې د تا
غوټۍ شونډې د تا
دا پورې چې ښکاریږي
په نوم د بوډۍ ټال
لیندۍ ده د رنګونو
وریا سره راغلی
د لمر وړانګو په مرسته
له وریځو او بادونو
زرغونه به شي ځمکه
رنګینه شوه هوا
غوټۍ شونډې د تا
غوټۍ شونډې د تا

ځيښناکو يو ځيښلي
رنګ رنګه د زمان
پر کور مو دي راغلي
غښتلي د جهان
خو موږ ورته ولاړ يو
په نوم د پښتون والي
سرونه مو ښندلي
پر ټوله پښتونخواه
غوټۍ شونډې د تا
غوټۍ شونډې د تا

بن جرمني
۲ / ۱۵ / ۲۰۰۷

*****

## دربغه دربغه

عمر تېر شو بې دربغه، دربغه، دربغه
د شپېتو د پاسه نېغه، دربغه، دربغه
لا خو نه یم تر اوږیاوو رسېدلي
د مرګي اورمه کږېغه، دربغه، دربغه
سپینۍ واورې مې پر سر دي وربدلي
د خزان د ساړه مېغه، دربغه دربغه
د ځوانۍ د مستي مست اس مې قربان کړ
د هوس د تېره تېغه، دربغه، دربغه
په چمن کې د بلبلو پرځاى ښکاري
د شين ټاغي سترګه ټېغه، دربغه دربغه
د زړښت د سیلۍ وار راغی (ځاپیه)
له هیبته شومه هېغه، دربغه، دربغه

بن جرمني
۲۸ / ۲ / ۲۰۰۷

## دربغه دربغه

یاران لېږدي بې دربغه، دربغه، دربغه
د ببلتون له درد او دیغه، دربغه، دربغه

د وصال او د بېلتون ترمينځ سيالۍ کې
د بېلتون شمله ده نېغه، دريغه، دريغه
له کاروانه د هر يار د لېږد پدني
اوربده شي بغ او بېغه، دريغه، دريغه
په چاړه لکه قصاب مو هسې وژني
د بېلتون له تېره تېغه، دريغه، دريغه
له پنځښته يو اخته د ځان په وير کې
د مرګي له بده کړېغه، دريغه، دريغه
په ژړاوو د هيچا هم نه جاروځي
د مرګي ده سترګه ابغه، دريغه، دريغه
د هر يار د بېلتانه د غم په وير کې
ما هم ووهله چيغه، دريغه، دريغه
لکه ما غوندې (ثاپي) په بېلتانه کې
د هر چا شوه ژامه هېغه، دريغه، دريغه

بن جرمني
۲۰۰۷ / ۳ / ۴
*****

## ځلـــوریـــزه:

### حيرانتيا

ځان ښيي کوربه غوندې، ناست يې د مېلمه غوندې
زه خو يې حيران کړمه، دې پښتونولۍ د تا
وايي له سمون نه خو ، کړنې دې کږې وږې
څو به وي کږه وږه، دا سمونولۍ د تا

بن جرمني
۱۷ / ۶ / ۲۰۰۷

### لوړه

لوړه په مينه او په وينه کړم، په ژبه کې هم
که په روغتيا وي که د يار د بېلتون تبه کې هم
ما خو هيڅکله محبت کې خيانت نه دی کړی
که په ناسوبه وه د يار د مخ، په سوبه کې هم

بن جرمني
۲۷ / ۷ / ۲۰۰۷

### مينه

مينه په وروځو ده، په سترګو که په بڼو د چا ؟
که ده په شونډو ، په لېمو ، په وېښتو ګڼو د چا ؟
زه غواړم سره د اننګو ، د کڅو تور تورونه
نور مې پروا نه شته هيڅکله لا په څنهو د چا

## پرخه

لکه د کڅو چې د ېوال د ښو تاو دی ترېنه
هسې ازغيو کې ښکلا په پټېدو خوښه ده
ګوتې لېمو ته مې د ګل چې نېږدې نه کړې کله
پرخه په وړانګو کې د لمر په ځلېدو خوښه ده

## اوښکه

پرېږده چې سترې شي د ساندو د نغمو سره مې
ستا نخاګره ادا لا په نڅېدو خوښه ده
ټوله نړی په تماشا درته راغلې ده خو
اوښکه بېوزله دې لا هم په څڅېدو خوښه ده

بن جرمني
٨ /٢/ ٢٠٠٨
*****

## په کنډر کې د ژواک

ځای د تنې نیسیي چې ځنځیر د ختو چاک
نه مومي بوډا هغه د تېرې ځوانۍ ځواک
لرې شه زوړ توبه، ګلابي شونډو په جام کې
او ښنبم خوارېږه لا، د ځوانۍ د بڼ د تاک
چا چې ژوندانه کې خپله ژبه ښه لمانځلې وي
زه خو یې ستایمه که ژواک وي که پژواک
مړ هغه ولس دې په نړۍ کې د سیالۍ
نه لري هیڅکله چې د خپلې ژبې واک
چېرته د انسان په وژنه چا؟ چانه پوښتلي دي
مه رسوه غږ تر عدالت پورې د هاک
وسوځوه زړه کې تړاوونه څه دي کړکې دي
او سه خپل ولس ته ښه سپېڅلی مینه ناک
هرڅه د هوس په اور کې سوځي د ځواکمنو
دی تنور د ظلم دې جوړ کړی لوی بلغاک
غټ وي که وړوکی، که وي دروند او که هم سپک
نه ښکاري ړانده ته، دغه ټول لکه خاشاک
نه وو چې لا ربنود مو پوه، د ژوند له جګړه تو نه

هر يو چغزنې برى مو واوخته متهاک
چاته چې لار ښودنه وي ښتينى او هوښيار
خوشې غورځي پرځي کا ، په کنده د هلاک
نه غواړي غوږونه د دروغژنو چې لا واوري هم
چېرته چې وينا وي د ښتياوو د ټيک تاک
رابه نه شي سوله لا په ځمکه د افغان
څو چې کرل کېږي تروريزم او ترياک
بې له ميني ويني، نور څه نشته د (څاپي)
څه غواړي بلوسګره په کنډر کې د ژواک
بن جرمني
١٨ / ٨ / ٢٠٠٧
*****

## ښـــځه

د چا په شونډو اننګو خوښه ده
د چا په وروځو په لېمو خوښه ده
ځوک یې غاښونه د صدفو ستايي
د چا په خال او په کمځو خوښه ده
ځيني خو ستايي د وېښتانو ځېې
د چا په ناز او کرشمو خوښه ده
ځوک یې د تیو او وره نونو ستايي
د چا په سترګو او ښېو خوښه ده
ځيني سيرت ځيني صورت خوښوي
د چا په ونه او جامو خوښه ده
چاته د ژوند ده د پايښت خبره
د چا يوازې په ښېبو خوښه ده
ځيني د خپل د کور مېرمنه ګڼي
د چا د کليو په دېرو خوښه ده
ځوک یې د مور په نامه ډېره ستايي
د چا ګلرنګه په ورېمو خوښه ده
ځوک یې د اور د بېلتانه نه تښتي

د چا جلیا په سرو لمبو خوښه ده
کور دی ګلبڼ مېرمن بلبله د ګل
بلبله ګل ته په نغمو خوښه ده
ښځه د کور مېرمن، واکمنه د کور
د کور د واک په مرتبو خوښه ده
ماشوم چې خومره د مور غېږ کې خوښ دی
هومره مور خواته د زانګو خوښه ده
چې په زانګو کې خپل ماشوم ویده کړي
په ترانو للو للو خوښه ده
تراخه وي زهر چې يې نوم وانه خلي
ښځه هر کله په خوږو خوښه ده
خواږه چې څنګه د خوږو خوښېږي
هځي هم خولی ته د ترخو خوښه ده
د جنت حوره، پرښته د جنت
ماته دنيا کې په ژوندو خوښه ده
زېرى د مینې د ښکلا له هسکه
بیا د (ثاپي) په ترانو خوښه ده
بن جرمني،۱۶ / ۲ / ۲۰۰۸

# پلوشې

له مخه لرې کړه کمخۍ خورې ورې پلوشې
په مسکا وځلوه شونډې تکې سرې پلوشې
وړانګې د لمر دي که دا ستا د مخ شغلې وو ایه !
د ژوند پر بام مې چې لا هاغسې لرې پلوشې
بیبره د کر به دې ترلاسه شي د ژوند نېکمرغي
په زړه کې مینه دا زما چې نن کرې پلوشې
له شینکو کځو نه دې ځار چې مې تهول شته د ژوند شي
داسې ارمان دی، زما د تن هرې زرې پلوشې
په ونه تیتهه، ښه سپینه، طلایي و ښتانو
ناوې یې ښکلې ژما د ژون د سر درې پلوشې
له ښلتانه، نه مو ترمینځه چې بیا ونه وایې
(هاینه) توتې کړ ستا د غم تېرې ارې پلوشې

بن ، جرمني
۱ / ۳ / ۲۰۰۸

یادونه: دغه پورتنۍ غزله مې د ښاغلي زیباستیان (هاینه) په غوښتنه لیکلې، زیباستیان (هاینه) یو دوه ویشت کلن الماني ځوان دی، چې د ټولو اروپايي ژبو په شمول په پښتو ژبه هم په روانه توګه غږېدلی شي. نوموړی په فارسي، بلوڅي، کردي، سندي، اردو، پنجابي او هندي ژبو هم پوهېږي او خبرې پرې کولی شي. هغه له یو بالمانۍ نجلۍ سره مینه لري او غواړي چې ورسره واده وکړي، سره ددې چې د ځان لپاره یې پښتو نوم (زمری) غوره کړی، خپلې راتلونکې مېرمنې ته یې هم د (پلوشې) نوم غوره کړی دی او ورباندې ایښی یې دی، نو ځکه هغوی ته ما دغه غزله د ښه راتلونکي ژوند په هیله ولیکله چې د ښر د ښر پرې خوښ شوي هم دي.

مبارز (ځاپی)

*****

# غـزلــه

يه ښکلي مينان دي کړيدلي دي که نه دي؟
په اور د بېلتانه کې سوځېدلي دي که نه دي؟
په سوچ کې به د چا د مينې پاتې يې که نه يې؟
له سترګو دې هم او ښکې څڅېدلي دي که نه دي؟
وريا کې د ګوليو د بمونو له آسمانه
کنډرې د چا رنګې دې ليدلي دي که نه دي؟
له وربځو به څوک هم کله پوښتنه داسې وکړي:
چې ځاځکي د وريا دې وربدلي دي که نه دي؟
جنډې د شهيدانو هره خوا چې لا رپېږي
تا هم له يتيمانو اوربدلي دي که نه دي؟
له هسکه د غروره که راکوزه شي وګوري
د وينو مو رودونه بهېدلي دي که نه دي؟
د مينې لېونيان دي هره خوا خواره واره شول
له غمه د هجران دې ژړېدلي دي که نه دي؟
ميليونه له وطنه په بهر کې آواره دي
په غم د پردېسۍ کې زوربدلي دي که نه دي؟
له هسکه د غمونو چې غړمبېږي هم ووايه !

دا ستا د تندر شونډې بريښيدلي دي که نه دي؟
خوښې ته د تګ پښې د مبارز شولې ورماتې
وارونه د ميرځى پرې لګيدلي دي که نه دي؟
بن جرمني
۱۰ / ۴ / ۲۰۰۸
*****

بوللـه
چې انسان لره خوښي ښيي اختر دى
چې اختر لري هغه ښه بختور دى
نن خو نوم د اختر بيا له هر چا اورم
که په کور کې دى دننه که بهر دى
ځيني بوخت دي په خوښيو د اختر
چاته پروت لا د غمونو لوى دفتر دى
ځني خاندي هوسيږي په نڅاوو
څوک اخته د غم د وير په زيراو زور دى
ځيني دي له هره غمه نه بې غمه

چا پر چا هم غوړولی خپل وزر دی
خو په برخه د هغوی څه خوښي نه شته
څوک چې پروت له کربښې لره او که بر دی
په ګوګل د ننه زړه ساتم په مینه
له دې زړه نه مې یو پاک الله خبر دی
دا سې مه ګڼه چې ما ده خوله تړلې
څبرې کړي مې هر چا ته خپل ټټر دی
خوښي نه شته د خوښي او زما ترمینځه
د بېلتون لښکر پرېوتی سر په سر دی
بېلتون نه شته له بېلتونه ځکه ځکه
دا زما او د بېلتون کور ور په ور دی
په ویالو کې غوټې مه وهه چې نه شته
ملغلرو ته یوازې سمندر دی
چې انسان پر انسان نه ورځي هم هلته
د بدۍ د هوډ د دوه غرونو ټکر دی
د جګړو د اور په لټه شول بد مرغه
چا چې سوله روغه غوښتي بختور دی
تباهي ده په نغمه د آزادۍ کې؟

یا خو دا چې سندر غاړي یې کافر دی
چې ماتم او مصیبت شو زموږ هیواد ته
د اووم او د اتم د غوایي ښکر دی
بیا هم هلته د ولس د مرګ لپاره
له لوېدیځه څخه تللی لوی لښکر دی
چې په وینو کې لا نه دی لمبېدلی
راته وایه کومه دښته ده که غر دی؟
هره ونه هر یو بوټی یې سور ښکاري
که څېرې ده که بر لنځه که ننښتر دی
ګر ځېدلی کومه پېښه چې د کال ده
هم هغه خو توره بوره د سپین غر دی
د چا نوم چې لا په خولې اخیستی نه شم
اوس هغه زموږ د خوار کلي رهبر دی
په وینا کې لکه ستر عالم د دین
په عمل لکه د کلي لنډه غر دی
د چند خو او غوما شو وه محفل ته
په نڅا او په سندرو لکه خر دی
په ټول ژوند کې چې د کلي چتکي ویشتي

هم هغه مو نن د سیمې سکندر دی
د وطن کلي بانډې ښارونه رنګ شول
ملامت چېرې یوازې ملا ببر دی
په دې لیاره کې هر چا کړه ینه یخه
د ګوندونو که اصغر دی که اکبر دی
ماشومانو ته د لوبو په چلول کې
افلاطون سره استاد مو برابر دی
چې واک پربوته په لاس کې د لوټ مارو
چاته پاتې نه غالۍ ده نه ټغر دی
له هغو ښاغلیو سل ځله ځاربږم
چا چې تاج ایښی پر سر او قلندر دی
که څوک نن په ملاتړ د حق وچت شي
په ګانده کې (مبارز) یې شمله ور دی
که په دې کې څه غلطه چاته ښکاري
دده کانې او زما خوارکی سر دی

بن جرمني
۲۶ / ۱۱ / ۲۰۰۸

*****

## څلـوريــزه:

### واوره

هرې څنډې ته د ځمکی رسېدلی
د افغان د هېواد پېښو نښانې
د بريو د وياړونو په غرور کې
ګوره مات شول فاتحين د زمانې

بن جرمني
۲۶ / ۱۱ / ۲۰۰۸
*****

### سوله

ښکارې چې د ژوند يوه اسره غوندې
را به شي هغه خوره وره غوندې
تاوی دي وربانديې سر په سر لړی
نه ښکارې چې سترګه يې ذره غوندې
رنګ يې د رنګونو اورکې سوي دی

ښکاري چې له بڼې نه ایره غونډې
لرې به شي دا تورې تیارې د غم
پاکه به شي سیمه ښه سوتره غونډې
نه راځي باور ته په عقلونو کې
چاته مو کتنه ښه کره غونډې
ښکاري مو د کلي د کوڅې ورشو
سترګو د دښمن ته سر دره غونډې
څه شوه که مهال د جبر شونډو کې
ودراوه غلیم راته غره غونډې
څېښښي مو هر غاښی د دښمن وینې
بیا لکه کرېږه او تاتره غونډې
رسي میوندی ټپه غوږونو ته
ننګ دی (مبارزه) ښه سره غونډې
بن جرمني
۲۸ / ۱ / ۲۰۰۹
*****

## کرواړی

څه ریبي لوګري، څه په لاس د وربي ساړي دي
ماته خوشی پاتی تشې ځمکې د کرواړې دي
لا به کډوالي او لا به ترهه د بېوزلو وي
چېرته چې چارواکي په خصلت لکه غوباړي دی
سر په سر به اوري لا بمونه د پښتون په کور
کوم چې د بدی په نیت راغلي دومره خراړي دي
ولې نشته پای د ورانولو او وژلو لا ؟
ولې دغه کلي او کروندې ټولې شاړې دي؟
بې کومې ګناه او بې خطا ګوره ځاځونو کې
هر چېرته نیولي غلیمانو چینګې داړي دي
څومره چې بهېږي هومره پاکې د چینې اوبه
وګوره بوینا کې د هر ډنډ اوبه ولاړې دي
نشته عدالت او نه یې نوم هم چېرته پاتې دی
کله چې د غلو او د چارواکیو سره غاړي دي
هر کله په پوهه د خبرو جګړه پای مومي
نور خو د جګړې په ملاتړ خبرې کراړې دي

ګوره زما په سترګو (ثاپي) هغو مختورونو ته
چا چې هم له ځمکې پورته کړي خپلې لاړې دي
بن جرمني
٢٧ / ٣ / ٢٠٠٩
*****

ثلـوريـزه:

## غاړې دي

دلته ددې ښار په هر يو پارک کې که څوک وګوري
ډلې هلکانو سره انجونې هم ولاړې دي
نه شته ده لولې او نه يې نوم هم چېرته پاتې دي
چېرته چې د انجونو د هلکو سره غاړې دي
بن جرمني
٢٧ / ٣ / ٢٠٠٩
*****

# پسرلی

رنګونه ښکلوي چې اننګي نن د ښکلاوو
بیا ښکلی پسرلی کړ د مین سترګو ژړاوو
غړمبېږي وربځې پورته تندرونه په نڅا دي
غړمبس او ټسهار هره ګړۍ دی د بلاوو
نېزونو د نیازمنو میني ږنګې کړلې ګورم
د سږ کال پسرلی چې دی راغلی په غوغاوو
بیا دښتې، غرونه، کلي او بانډو کې د ذرغاوو
راپورته انګازې شوې د زرکانو د خنداوو
رمې دي د شپنو او که غوایي د غوبنو دي
په لوري د ورشو د څرا درومي په نڅاوو
تیارې د ژمي ورو، ورو د یخنیو سره درومي
تاودې ورځې به راشي د لمر سترګو د رڼاوو
د مینې د ګلونو غوړېدلو به وار راشي
وږمې به په نڅا شي د دې سیمې په هواوو
بڼونو چمنونو کې د ژوند له رنګینیو
نغمې به اورېده شي د بلبل له هرې خواوو
د مینې د ملګرو ډلې دلې هرې خواته
(څاپي) غونډې به بوخت وي د هر بڼ په تماشوو

## د اجمل ختټک په مړینه

نن ختټک لاړ په ګانده به مو بل یار ځي
(د یارانو کډې ګور ته وار په وار ځي)
نه ستنېږي که وژاړمه په کوکو
ځوک چې دلته دي راغلي په دې لار ځي
په هیلو د پسرلو چې وو راغلی
هغه یار خو مې نامراده له بهار ځي
که شمتن وي که بېوزلی او که بل ځوک
هم هغه به په ژړا او په کوکار ځي
بڼ کې نه دي لا ګلونه تو کېدلي
دا توتیان مو ترېنه ځله په کنار ځي؟
سهار نه دی د سپرلي پر بڼ راغلی
د ورېمو کاروان پر بله جو په بار ځي
منی او ژمی سر په سر راځي او درومي
خو له سیمو مو ګوښه د سپرلي وار ځي
د مین د میني راز د ژوند آغاز دی
دا آغاز وایه چې څنګه په تلوار ځي؟
پر هر بڼ باندې د نورو سپرلی راشي

خو پر بڼ د پښتنو د غم ناتار ځي
باباګان او لالاګان مو واړه لاړل
د ملګرو کاروان پاتې پر انګار ځي
د پښتون جامه ګنډه ونکیه لږ خو پام کړه
د ګرېوان ریښې مو ثله تار په تار ځي
وایي یا د اسامه یا خو د بوش شه
که دانه کړې ککرۍ به دې پر دار ځي
(سیائي) او (القاعده) خو داسې برېښي
چې د چا پر کور یرغل ته داړه مار ځي
یوه لویه د سیسه جوړه راغلې
پر پښتون باندې د غم لکه امبار ځي
خدایه ! وغزوه لاس د خپلې مرستې
د پښتون ولس د زغم سره قرار ځي
بیا خو وران کړه تول مکرونه د مکارو
د ختک د هیلو بڼ باندې غدار ځي
ما (څاپي) ته د ختک هم هغه لار را
چې په مینه کې سیده په لور د یار ځي

بن جرمني،۱۴ / ۲ / ۲۰۱۰

# غرور

ما ګل درته نیولی دی د مینې په دستور
ته ماته هیڅ نه ګورې لا په سترګه د مزدور
نه زه د تا مریی یمه، نه ته زما بادار
بې هیڅه سپکې سپورې وره وی د خپل غرور
هوا چې شي په لاس کې د غرور د ظالمانو
بېوزلو ته به هر څوک وي ولاړ لکه تربور
ځان وژنیو بریدونو کړه پښتون مینه ویجاړه
نړی ناسته په سوچ ده پر تغر لا د ترور
زرغونه به بیدا شي د ریدیو د ګلونو
ورمې چې لا خورې شي د سپرلیو د سرور
ګوګل کې به دننه د زړګي د سرو سکروټو
اورونه به ایرې شي د ګل ورمو په ظهور
د مینې په ورشو کې که سارا ده او که کلی
مین لره ښکاره شي ګل مخونه سپین او سور
دراغنه داوګری د طالبانو تشه مه شه
چې ږیره د ملا مې هم فاران ګڼي هم طور
سارا به تکه شنه شي چې یو ځلې مجنون مخي
له بریده د ځان وژنیو نه ځان وژغوري په کور
ساقي زر شه ووایه په ښنبا کې د څه ورکړل؟
شو ستا په ښنبا ستون کې (مبارز خاپي) رنځور

بن جرمني ۱۴ / ۴ / ۲۰۱۰

# بېلتون

اوربدلی مې دی ځې ته په بل لورې
دا زما د مینې خواته بیا نه ګورې
د تګ لیارې دې شه ډکې له ګلونو
وایم هرې خواته هم چې ته وګورې
مینه هسې متاع نه ده چې یې واخلې
په بازار کې پر هر چا باندې وپلورې
یا یې وګڼې چې هر کله هر ځای کې
په وړیا توګه کولای شې وپېرې
د بېلتون له نېزه نه دي څوک بچ شوي
ما لیدلی له دې خوړ نه پورې اورې
پر هر کلي ډمامې یې غږېدلې
اغیزې یې هم پرتې دي تر ښار پورې
د (ځاپي) د مینې ډکې وینا اورې
چې د زړه په سترګو لولې کرښې تورې

بن جرمني
۲۰۱۰

*****

## بـــــاړه

وو ایه چې څه وایې؟
هر څه چې په خوله وایې
مه وایه چې نه وایم
دارنګه چې ته وایې
ماته لکه شاتو دي
څومره چې تراخه وایې
څنګه به مې هېرې شي
دومره چې پاخه وایې
ګل غوندې تازه شمه
کله چې خواږه وایې
نن څه پېښنه پېښنه شوه؟
دم په دم کاږه وایې
بل څوک که یوه وایي
ته راته پینځه وایې
څنګه دې پېرزو وشوه
ورځې ته مې شپه وایې

نه چې د چل ول په دود
یو رنګه تیاره وایې
سپینه درنه غواړمه
توره بې مزه وایې
څو به په خبرو کې
تل کاږه واږه وایې
اوسې لا په کلي کې
ښه‌بې دراغه وایې
ستا سترګې دې سپینې لا
ماته دې رانجه وایې
باز غوندې شاهین غوندې
لوړ دی الواته وایې
وار چې بیا د ښکار راشي
ځان ته دې کارغه وایې
زه درته کابل ښیم
ته راته وانه وایې
وړاندې له تورخمه لا
بیا هم له واګه وایې

ځو به په غمونو کې
چارې د واده وايي
بيا مې د ځيگر په لور
نېغې د بانه وايي
سوځې مې اورونو کې
د بېته هنگامه وايي
هسې مې غوږونو ته
وچه ترانه وايي
زړه مې چې راوباسي
بڼې ته چاره وايي
لا مې د ځان غوښنو نه
ځان لره خواره وايي
ځان شمېرې ځوانانو کې
بل ته د زاره وايي
غم دې کړ بوډا (ځاپې)
د بېته هم باره وايي

بن جرمني
۲۷ / ۱۰ / ۲۰۱۰
*****

## ځپېږه

چې څو مره درد ، هومره درمان ځپېږه
لرې خوارہ مې د جانان ځپېږه
لکه ګل پاڼه ښه خوږه لګېږي
د خوږو شونډو د ارمان ځپېږه
سوځي په اور د پښېمانيو کې لا
چا چې خوړلي د حرمان ځپېږه
مينه د ښکليو هم ښکلا د ښکليو
پاڼه د ګل ده د ريحان ځپېږه
د اننګو سره به يې وځلېږي
څوک چې مني د ګلستان ځپېږه
د پسرلي د ګل موسم مهال کې
ما هم منلي د باغوان ځپېږه
هر کله اوري د ماليار په وړاندې
پر ما (څاپي) د ګل باران ځپېږه

بن جرمنی
۲۸ / ۱۰ / ۲۰۱۰

*****

## ټپي ټپي

چې کوم سر د مينې سر و ، هغه سر ټپي ټپي
مينه کله چې ټپي شوه ، شو بشر ټپي ټپي
د قابل د لاس په ګوتو ، د هابيل وينه شوه تو يه
د ادم ځوځات د مينې ، شو جوهر ټپي ټپي
د بابا د مينې کور شو ، چې تاتوبې د زورواکو
د زور واکو زورواکۍ کړ ، لراو بر ټپي ټپي
چې د سولې مينې کور وو ، نن هغه له لرې ښکاري
ټول د ننه ژوبل ژوبل ، ټول بهر ټپي ټپي
هيڅ د بام ننبه يې نه شته ، په بمونو دی رنګ شوی
هم د ټوال يې ژوبل ژوبل ، هم يې ور ټپي ټپي
سوله مړه ده ددې سيمې ، روغه لا هم ده ناروغه
د ښېګڼو او د ډاډ هم ، دی لښکر ټپي ټپي
هر يو ټپ لره چې ګورم ، دی د ټپ د پاسه ټپ
د ټپونو هر يو ټپ دی ، سر په سر ټپي ټپي
هوا ژوبله ځمکه ژوبله ، د ځاځنو په سيالۍ کې
غرونه ژوبل لا هم ښکاري ، سمندر ټپي ټپي
حجره ژبله جومات ژوبل په بمونو د ځان وژنو

هره خوله د خندا ژوبله، هر اختر ټپي ټپي
تشدد دی ژبغړانده، د زوروا کو په مستۍ کې
د هوا مرغان يې هم کړل، په وزر ټپي ټپي
باچاخان شو ژوبل ژوبل، ولی خان شو ژوبل ژوبل
اکبرخان اکبر سره هم، صنوبر ټپي ټپي
باچا خان چې لکه لمر به، هرې خوا وړانګې شيندلی
هغه وړانګې تتې تتې، هغه لمر ټپي ټپي
چې د خوب ځای کې زوروا کو، صمد خان بابا شهيد کړ
کوئيټه شوه ساندې ساندې، پښور ټپي ټپي
د غني ليونۍ مينه، سمندر د عقل او پوهې
د هغی پوهی او عقل، شو ثمر ټپي ټپي
د اجمل خټک په زړه هم، د تنها کو سيلۍ راغلی
د ولس د ژوند په غم شو، په ټټر ټپي ټپي
د سايل د شعور شعر، چې شي ييبره د غوښتنو
د وطن کچکول په غاړه، قلندر ټپي ټپي
د وطن غرونه مو واړه اړخ په اړه دي ژوبل شوي
که شمشاد دی که کاوون دی، که سپين غر ټپي ټپي
نه ودانه ده ودانه، نه هم ښاره لکه ښاره

د جګړو دلاسه ښکاري، سم او غر ټپي ټپي
عدالت چې سر خوړلی، د بې نیاوو تېرو تورو
هم دربار کړ ژوبل ژوبل، هم دفتر ټپي ټپي
دښمنان د میني هر ځای، مینان په کاڼو ولي
د وطن لیلا خو هم شوه، په ځیګر ټپي ټپي
چې د ژوند په سمندر مو، د وژونکیو سیلۍ راغلی
هم ببرۍ شوه دړې وړې، هم لنګر ټپي ټپي
لا ورئیېنه چې شوه ژوبله، د خیرو ښخه اوس ښکاري
هر اصغر دی ژوبل ژوبل، هر اکبر ټپي ټپي
روغي پاتې نه شوی هیڅ یو، د تاریخ په زړه کې ښښې
که کړپه که تاتره ده، که خیبر ټپي ټپي
په منتر د چا رانه غلل، منګوران د زور د سوړیو
د کوډګرو هره هڅه، هر منتر ټپي ټپي
مینه ناکه پیرزوینه، چې په زړه کې د (ثاپي) وه
هاغه هم شوه د زوروا کو، په خنجر ټپي ټپي
ما په سترګو کې د ستوري، دغه کرښه ده لوستلې
نه به شپې دا سې تیارې وي، نه سهر ټپي ټپي

بن جرمني
۲۰ / ۲ / ۲۰۱۱
*****

# غزله

لاله د شونډو کړ مجنون په خندا
چې جګړه با یلله بېلتون په سارا
د ریدي ګل د ژوند کیسه چې وا ورم
په هر څه پوه شمه د مینې په رښتیا
شونډې او ذنه د ګل لښتو مسکا
مینه جنون ته رسولی شي بیا
څنې، اوربل، باڼه د سترګو غیشي
وژني او ژوند ښښي هم دی سره دا
د ګل د پاڼو د وږمونو نه زار
د مالیار هره هڅه، زغم او مسکا
له کورا او کلي په ډېر لري واټن
اورم د مینې اوره نېزه غوغا
د لېونتوب هسې پراخ ورشو کې
مینې مجنون ته رسولی لیلا
اوښکی د زړه د مبارز (ځاپي) هم
پر دښته کړي د لېونیانو وریا

بن جرمني
۳ / ۴ / ۲۰۱۱

# توتکۍ

د ماشوم لپاره:

یه سپېڅلې توتکۍ
سپینه دې لکۍ
ښکلې دې بڼه کې دي
ښکلې ټونګه کې
کال په کال راتګ لرې
دلته زموږ سیمې ته

او:

دلته زموږ کور کې
اچوي هګۍ
ته د سپرلي زېری یې
راشې زموږ سیمې ته
موږ هم کړو درناوی
ستا د خپلواکۍ
تا ته ستا په واک کې دي
زموږ د کور د ننه ټول

هر چېرته چې وغوا ړي
جوړه کړي کوړک
څومره ښې ښا شي
ټولې کړې له هرې خوا
راوړي په منګلو کې
او جوړه کړي چرګۍ
چېرته چې چتو نه دي
هلته ځان ته وټاکي
بیا د اوسېدو په هوډ
خپله ځاله ګۍ
ختهو نه خاشاکو نه
ښه لایق ختګر په خېر
جوړه کړي د مینې کور
ښکلې انځورګۍ
الوځي را الوځي
د هسک په هره څنډه کې
سر په سر غورځنګ سره
نیسې میاشه کې

تل په لیږدېدنو کې
ژوند ته ښه ښکلا ښښي
کله په شمال کې او کله په سهیل
پراخه ورشوګۍ
غوړمه دتا په څېر
زه (ځاپي) په سوله کې
هرې خواته والوځم
په مینه وروګلوۍ
بن جرمني
۲۰۱۰ / ۱۱ / ۴
*****

## ژونـــــــــــد

ښکلی دی ژوند ښکلی دی
غوره او سپېڅلی دی
مه لړی ناولو کې
مینې پاک ساتلی دی
مینې پاک ساتلی دی
ښکلی یې پاللی دی
ډ کې خولې خندا سره
ښه یې تخنولی دی
دریغه ناروا تو ګه
کرکې ډېر ځبلی دی
کرکې ډېر ځبلی دی
بد بد یې رټلی دی
هر رنګه تورونکې
لا یې کړولی دی
هر کله د ښه مرغه
مینې ژغورلی دی

مینې ژغورلی دی
لا ښه يې روزلی دی
هم يې خندولی دی
هم يې خوښ ساتلی دی
دریغه چې بیا کړکې هم
بم سره ویشتلی دی
بم سره ویشتلی دی
اور کې سوځولی دی
زهرو کې لړلی دی
بد رنګه وژلی دی
ما په دغو سترګو هم
هر رنګه لیدلی دی
پیل کوي ژوند مینه کې
روغه لري وینه کې
سولې او خندا سره
زغم هم په ییینه کې
دا خو مو په خپله ژوند
کړکې ته سپارلی دی

دا یوازې مینه ده
ژوند باندې مېینه ده
چېرته چې ژوند څرک وهي
هلته هم نبه پلنه ده
ورکه شه ځځوالی خوی
ژوند یې تروړلی دی
ژوند د اوبو رنګ لري
خاوره کې فرهنګ لري
هوا او تاودوخیو نه
وده او غورځنګ لري
تن دی روح او سا سره
دی توکیو تړلی دی
لمر او هم سپوږمۍ د ژوند
ستوریو نه کېږدۍ د ژوند
لا توله نړۍ کې هم
هیله ده ژوندۍ د ژوند
لاندې باندې اړخ په اړخ
مینې کې لړلی دي

ساه د تن ژمنه ده
روح هم هځېدنه ده
بې د روح او ساه څخه
تن خاورې کېدنه ده
تن چې وي بې روح او ساه
خوشې هسکېرلی دی
سا د تن ځواک ګڼه
روح ورلره واک ګڼه
بېواکه بې ځواکه تن
هر کله هلاک ګڼه
ژوند د واک او ځواک سره
څېلمې نه همزولی دی
ژوی وي ژوندی وي هم
ښه د ژوند او ژواک سره
مینه د ژوندو غواړي
مل هم د خپل واک سره
مینې د واک ځواک غوندې
ژوند یې هڅولی دی

ژوند خو ډېر غښتلی دی
ستر ګټه يې چوولی دی
تل په نازکواله کې
برې ته ختلی دی
يو ماشوم منګولو هم
د ربغه چې مروړلی دی
شته ډېرې لانجې د ژوند
هر رنګه رنګونو کې
سر په سر ژړا سره
وير لري موجونو کې
دا ښېوزله ژوند خو هم
غم په غم داغلی دی
يو د ژوند ميرخئ کې بوخت
بل ورسره مينه کړي
چا ته ژوند تياره تياره
چا لره هم سپينه کړي
غم سره ښادي ګوره
خوا په خوا راغلی دی

څوک يې سوله ايزګڼي
څوک يې هم ځځښت
څوک په تاو تريخوالي کې
غواړي هم درنښت
کرکه د ژوند ورکه شه
ژوند يې کړولی دي
ځاځ دی که ځځواله هم
شته دی په ځاځيو کې
ښکاري د ځاځښت نښې
کړنو د ځاپيو کې
څوک چې هم ځځانده شو
خپل سر يې بايللی دی
ژوند کې لوربينه ده
تل ښه پېرزوينه ده
سولې نه او روغې نه
زړونو کې ډاډينه ده
کرکې خو په بل مخې
دا هم اړولی دی

ستړګې مو د ژوند نښې
هره خوا ليدلی شي
لوړو او ژورو کې
رنګ په رنګ کتلی شي
هر چېرې ذرغاوو کې
ژوند ښه تړوکېدلی دی
کو مه رڼايي چې ده
دا د ځښتن ښه ده
دې کې د ځښتن وده
هر ګوره ژوند ښښه ده
ښيي هنداره د ژوند
چا چې هم کتلی دی
ژوند په خپله ښکلی دی
هر څه نه سپېڅلی دی
مينې کې ورشو غواړې
دا يې هم لرلی دی
دربغه په تورونو کې
کرکې هم وژلی دی

کرکه کرغېړنه ده
ژوند لره وژنه ده
کلی او ښارونو کې
د مېنو لوټونه ده
هڅې د مېرځۍ لري
دې کې نوم وتلی دی
څه شیبه خوښې پسې
میاشت او کال غمونه دي
هر چاته په برخه کې
ستونزې په زرګونو دي
ژوند د مبارز (څاپي)
سم ورسره تللی دی
ښکلی دی ژوند ښکلی دی
غوره او سپېڅلی دی
مه لړی ناولو کې
مینې پاک ساتلی دی

بن جرمني
اپریل کال ۲۰۱۱

*****

## مینتوب

نه ښکاري مانۍ کومه چې شته کړي مینتوب
وګوره په دښته کې لا شپه کړي مینتوب
زېرې مې د ساه چې د خندا سره زرغون شي
هیله مې د ژوند لا یو په دوه کړي مینتوب
تود لکه د دوبي لمر د زړه په تل کې اوسي
داسې هم د مینې ځوښ کره کړي مینتوب
هاغه به لیلا شي زما د روح د تن او سا
کومه چې مې غېږه کې اوده کړي مینتوب
لاس د وسې لنډ دی د سیالۍ د هر رقیب
هر رنګه لمبه د اور سره کړي مینتوب
نه شته سپېڅلتیا کې د ساده مینې پېغور
څوک به یې اومه کړي، چې پخه کړي مینتوب
راغلی که یو ځلې د جنون د سوچ ورشو ته
دا کاږه واږه به دې سیده کړي مینتوب
پورته که د مینې د خمار پر اننګو شوې
ټولې دوه او درې به دې یوه کړي مینتوب
وخېږې کړۍ کړۍ لوګی د هسک په لورې

کله چې نغمه خپله توده کړي مينتوب
سر پر سر سکروټې دي، انګار دی سوزوونکی
کانې، اونې، بوټې ټول ايره کړي مينتوب
لامبې مبارز (ثاپي) د اور په سر وينزو کې
څو چې په ګلبڼ کې ګل غنچه کړي مينتوب
بن جرمني
۲۰۱۱ / ۱۰ / ۷
*****

# شلېدلی ګرېوان

وشلېده ګرېوان د لېونتوب د کمیسه
غاړه د مجنون کې ددې ښار د کنیسه
بیا د کلیسا دوره په خوله کې لپه غواړي
دا ګدا د دهر که مجنون دی د پیتسه
مه ګوره د تن جامې چې څه یې دي اغوستي
کمیس دي بې لستوڼي او پرتوګ دی بې پایسه
چېرته به لمنه شي وربېنمینه د جنون؟
څوک به هم غوښتونکی شي د ځای د جلیسه؟
نه چې مورا بیا د بېلتانه په اورو کې سوځي
نه چې مساپر شو پتی خان د برېښه
دا مجنون د میني او دا دوړي د ببدیا
دواړه په هنداره د وصال کې ونیسه
نه راځي خندا په هیڅ ګړۍ د دغو ورځو
هی توبه په میاشتو شه په کال د کبیسه
بیا لکه وریا چې وچه دښته کړي خړوبه
هر رنګه بې وسو ته د ژوند وسه ویسه
وس په وسه راشي چې وسي شي د وسیانو

دا وسوسی شه د وسا په ښه ویسه
یه د بې وځلانو د شلېدلو ګرېوانونو
خدایه ! ما وژغورې د هر چا د دسیسه
مه راکوه شته چې ما (ثاپي) باندې واکمن شي
ومې ساته تل د داسې خویه خسیسه
بن جرمني
۱۷ / ۱۲ / ۲۰۱۱
*****

## ګېدړې خوی

تېرې غیشې دې بانه دې د ویشتلو
تېز کاته دې ښکار وي هوډ د وژلو
برندې سترګې ښکاروي خوی د ځځوالي
ویروې مو تل په دارنګه ځاځلو
هر یو نوک دې د منګولو ښایي داسې:
چې تکړه یې ښه په وینو تویولو
موده وشوه زموږ د سیمې په هر ګوټ کې
تویوي وینې زموږ د نازولو
څه چې وایې د دوستې، دښمنانه دې
په دې چم به څو یې بوخت په غولولو ؟

خوی او بوی دې د ګېدړو دی چې راشې
د زمري غوندې غړمبېږي د څېرلو
د ګيدړو ښکار چرګوړي وي د کلي
هم هغه په پټه توګه د ورتللو
د زمرو وي ښکار د غرونو د غرڅانو
په ښکاره توګه د ښکار د ښکارولو
ته چې کله هم د ښکار په لورې درومې
بې وسې دې وي د ښکار په ښکاربدلو
نور په لورې د ګربتو چې رانه شي
هڅه مه کوه بیا غره ته د ختلو
داسې هم د مبارز (څاپي ) وینا ده
چې راغلي، کړي ارمان د ستنېدلو
بن جرمني
١٣ / ٠١ / ٢٠١٢
*****

## ګوابښ

زه به لېونی شمه، مه کوه ګوابښ
بیا به سارانی شمه، مه کوه ګوابښ
ستا بل کړي اور کې، نه سوځي بل څوک
زه به سپېلنی شمه، مه کوه ګوابښ
ستا په سمندر کې نه دي چا لمبلي
زه به وړومبنی شمه، مه کوه ګوابښ
څو به اخلي ماته نوم د بهرني؟
زه به کورنی شمه، مه کوه ګوابښ
هره کشاله کې ستا او د رقیب
زه به منځنی شمه، مه کوه ګوابښ
ته چې پرې خوښېږې، ستا رضا لپاره
زه به بهرنی شمه، مه کوه ګوابښ
کله چې مې شمېرې، نوم په لر او بر
زه به پاسنی شمه، مه کوه ګوابښ
ما په پښتونواله هرڅه دي ښندلي
ستا به افغانی شمه، مه کوه ګوابښ
کشکې ستا د زړې، ستوری چې راخېژي

هاغه سباني شمه، مه کوه ګوانښ
لرې چې ساړه کړمه، ستا د خوږې غېږې
لمر به غرمنی شمه، مه کوه ګوانښ
لورې د برې ته، لیاره کې د تللو
زه به لومړنی شمه، مه کوه ګوانښ
ومه له لغمانه، ستا دلاسه ګوره !
غواړم بغلانی شمه، مه کوه ګوانښ
هر یوه بېوزلې ته، غواړمه په مینه
مرسته بېړنی شمه، مه کوه ګوانښ
ستا د مینې کور کې، غواړم مینه ناکه
هاغه پروني شمه، مه کوه ګوانښ
غم کې ستا د مینې خومره چې لا کېږي
هومره ځنډنی شمه، مه کوه ګوانښ
لاندې باندې اور دی، مینځ کې زه (ثاپي)
پربړده وریتنی شمه، مه کوه ګوانښ

بن جرمني
۱۶ / ۲ / ۲۰۱۲
*****

## لېږدېدنه

مرغۍ چې لاړه شي نو ځاله يې پرځای پاتې شي
داسې هم زړه کې د يادونو غونډې دی پاتې شي
د لېږدېدنو د لړۍ نه ځو يادونه لرم
چې به دا غونه يې پر زړونو لکه هی پاتې شي
د ژوند خبره يوه نښه د کيسو غونډې ده
چې تاوده اُوړي نه مو ژمي ته پکې پاتې شي
راځي او ځي پر دغه لياره کاروانونه د ژوند
د هر کاروان څخه د اوښ خالي اندۍ پاتې شي
د کروندګرو د لاسونو د تناکونه ځار
چې د کاريبره کې دده نه ډک پتۍ پاتې شي
د لېږدېدونو په بهير کې د ښېګڼو نښې
لا هم وروستيو کاروانونو ته وتی پاتې شي
په ښو ښېګڼو نوم ژوندی وي د هغو وګړو
چې په ټبر کې يې نوم وتی ښه سړی پاتې شي
د لېږدېدونکو مېړنيو سربښندنو مخ ته
چېرته کيسه به د رستم سره د کی پاتې شي
د لوېديخوالو د جګړو د پای د ټکي په څېر

د ټول ختيز د لوړو غرونو به زمری پاتې شي
لکه مکې او مدينې چې يو خاوند يې و موند
د خوځښتونو جهادونو به بری پاتې شي
چې مينه نه وي، زړه سوای نه وي او ښښکنه نه وي
د ماشوم خولې نه به د مور د شيدو تي پاتې شي
پېرۍ پوړۍ شوې چې سندرې نه شته داسې نو هم
ګونګه به ژبه د خوښۍ د نغمو نی پاتې شي
که لېږد بدنو مبارز (ثاپي) له پړاوه وويست
د ژوند ښکلا به د ګلپاڼې نه پردی پاتې شي
بن جرمني
۲۱ / ۳ / ۲۰۱۲
*****

## د ادیبانو په ټولیو کې

رنګ په رنګ رنګېږي، بې رنګ نشته دی
هر یو رنګ دی ښکلی، بد رنګ نشته دی
کچې د درنښت ته په ټولنو کې
پوهه منل شوې ده، منګ نشته دی
مه بلوئ شمعې پر هر ځای باندې
چېرته چې ډیوې شته، پتنګ نشته دی
وټوکېږي تل له بې رنګیه رنګ
چا ویلي خاوره کې، رنګ نشته دی؟
ژوند د پښتنو د ژوند په څېر لرو
هرڅه په خپل ځای دي، غورځنګ نشته دی
وازمایل هرچا خپل تندي دلته
غرونه نړېدلي دي، جنګ نشته دی
وخوري په جګړه کې چې مغزي ګذار
ماته او په تېښته کې، ننګ نشته دی
راشي چې په منډو، هم په منډو ځي
جبر د تاریخ ځنې، څنګ نشته دی
کار چې په ښې میني، سپېڅلتیا نه کا

زړه به ډک د خیرو وي، زنګ نشته دی
مینه لېونۍ ده، لېونتوب غواړي
بې ددې نه، بل څه کلنګ نشته دی
ټکی شو همزه، د پښتونخوا پرمخ
وورېده پراخه کې، تنګ نشته دی
خونه د ادب کې مې چې څوک اوسي
هاغه خو خوشحال دی، اورنګ نشته دی
ځای کې د حمید بابا (کاروان) کېناست
بله غړۍ دارنګه، دنګ نشته دی
زه به د الفت پرهره لیاره ځم
بل د مینې داسې، ملنګ نشته دی
دا د ادیبانو په ټولیو کې
لا د مبارز (څاپې) رنګ نشته دی
بن جرمني
۲۰۱۱ / ۹ / ۱۷
**********************

# مـــقـــالـــــــــې

## د ويــاړونــو ځــلی

د وياړونو تر ځلي پورې د رسېدلو په واټ کې هر څوک اړ دی، څو ددغو ځلورو ځليو د پړاوونو کړاوونه وزغمي، بلکې د سوچ ځلي، د هڅوب ځلي، د ميني ځلي او د لوربينې ځلي، کله چې يو څوک د سوچ تر ځلي ورسېده، په هماغه مهال ځان اړ ګڼي چې د هڅوب تر ځلي ځان ورسوي او کله چې د هڅوب تر ځلي ورسېده، هلته ورته دوی لیارې د دوه وو ځليو په لوري تر سترګو کېږي، يوه لياره د مينې تر ځلي او بله لياره د لوربينې تر ځلي پورې غځېدلې.

د مينې په ځلي کې د ژوند له خوږو نه خوارېږ؛ لکه د زړه ډاډ، د ښکلاوو پر خوږو مړخت او د ژوند د پايښت تر تولو لوړه پته ځلېږي، خو د لوربينې له ځلي نه د بريو، مرستو، هوساينو، نېکمرغيو، زړه سواندو او د ويرونو د ساندو انګازې اورېدلی کېږي. دغه د مينې او لوربينې د ځليو په لوري دوی لیارې دي، چې د وياړونو د پرتمين ځلي د کور د پتې په لور، روښانه واټ ښيي، د وياړونو د پرتمين ځلي پته د انسان په تن کې د هغه پټ شعور دی، دغه پټ شعور نه يوازې چې د وياړونو د ځلي پټ کور دی، چې د شعر کور هم دی، هغه شعر چې د تېر مهال وياړنې ستايني او د

راتلونکي مهال د نويوو وياړونو د ځليو د جوړولو تکل ته ژوند ببښي.

شعور هغه ځای ته وايي، چې هلته د طبيعت او د ماورا الطبيعت تر مينځه د راکړې ورکړې اړيکې ټينګېږي. يعنې شعور د انسان او د ماورا الطبيعت تر مينځه د اړيکو د ټينګولو ډاډمنه هډه ده. شعور هغه مهال ويښ او غښتلی شي، چې روح په کې مېلمه شي. روح ته کولای شو د ويښتيا، هڅونو، واک، ځواک او د آزادۍ د وياړونو نوم هم ورکړو.

دا ځکه، کله چې روح له تنه ووځي، انسان که مړ نه وي، لږ تر لږه خو د مړي په څېر له هره غبرګونه بې برخې پروت وي، نو دا يوازې روح دی، چې په خپل راتګ سره شعور ته او په دې توګه انسان ته د هر رنګه کړنو د غبرګون واک او ځواک ببښي او په انساني ټولنه کې هر ولس ته جلا د وياړونو ځلی ور جوړوي. د شعور کور که د روح د وياړنو هډه ده، د الهام هډه هم ده. الهام هم لکه د روح په څېر يو ماورا الطبيعت اغېز دی، چې هم په خوب او هم په ويښه کې پر هر انسان که هغه اوړ وي او که زوړ، ښځه وي او که نر، مېلمه کېږي.

الهام که د شعر په توګه د شاعر له خولې راشي، له شاعر به، رحمان بابا، خوشحال خان خټک، حميد بابا او ملنګ جان جوړ کړي، که د

ټولنيزاو سياسي ښاغليو پر ژبو راشي، هغوی نه به کټ مټ لکه میرویس نیکه، احمد شاه بابا، غازي امان الله خان او باچا خان جوړوي او که د ديني لارښود پر ژبه راشي، هغه نه به د نبوي احاديثو په څېر ځانله معنوي دريځ ومومي.
الهام اوامر نه دي، چې ارو مرو پلي شي، بلکې له تېرو او راتلونکيو پېښو څخه څه غوندې ګډې وډې ښوونې او يادونې دي، چې شېبه پس به لا له خاونده يې هېر هم شوي وي، د وحی او الهام ترمينځ توپير دا دی چې:
وحی د لوی خدای له لوري يوازې پر پيغمبرانو راځي، خو الهام پر هر چا هغه که ښځه وي که نر، که اوړوي او که زوړ، را مېلمه کېږي، دا چې شعور د روح او د الهام لپاره د انسان په تن کې يوه ډاډمنه هډه ده او دغه هډه د روح او الهام د اغېزمنو وزورونو په لرلو سره وګړيو او ټولنو ته د واک تر ټلي پوري د آزادو الوتلو تکل وربښي، نو راځئ چې ووايو:
تل دې وي ودانه او روښانه دې وي د شعور کور او تل دې ځلانده وي د وياړونو پرتمين څلي، يعنې آزادي.
مبارز (ساپی)
بن – جرمني

## پېژند پاڼه

انساني ټولنه چې په څلورو رنګونو وېشل شوې؛ لکه تور، سپین، سور او ژېړ په دغو څلورو رنګونو کې د هر یوه توکم او په هر یوه توکم کې د هر چا د بڼې سره جوخت د هغوی په ژبو کې هم بدلون او جلا والی راغلی، چې لا پسې هم بدلون او جلا والی راتلونکی دی، ددغو رنګونو او ژبو په هکله د لوی خدای تعالی د سپېڅلي کتاب قرآن کریم د الروم سورة په دوه ویشتم آیة کې داسې لولو:

(زما د پنځښت له نښو څخه یو هم د آسمانونو، د ځمکې او د انسانانو په ژبو او رنګونو کې اختلاف دی.)

په دې آیة کې د پنځښت یا خلقت کلمه چې د لوی خدای په کونیه چارو پورې تړاو لري، د انسانانو په رنګونو او په ژبو کې د اختلاف ښودنه کوي او همدارنګه د الحجرات سورة په دیارلسم آیة کې لولو، چې:

(انسانان له یوې ښځې او له یو نر نه پیدا شوي، خو په قبیلو او څانګو وېشل شوي، څو وپېژندل شي غوره سړی هغه دی، چې پرهېزګاره او متقي وي.)

ددې آیة متن په دوو برخو وېشل شوی، یوه برخه یې چې د انسانانو پر ځانګو او قبیلو د وېشلو خبره ده، په کونیه چارو پورې تړاو لري، څو سره وپېژندل شي، بله برخه یې چې د انسانانو غوره والی په تقوا کې ګڼي، په قدریه چارو پورې چې د پنځښت نه پیل د زېږېدنې او مړینې ترمینځه چې څومره پېښې ورپېښېږي او بیا د مړینې نه وروسته چې د کومو مکافاتو وړ یا په کومو مجازاتو پړ ګڼل کېږي تړاو نیسي.
دغه آیة په څرګنده ډګیو کې زمورږ پام د ښځواته را اړوي، چې وګورو د لوی خدای په کونیه چارو کې تر هر بل اړتیا څخه د مخه د پېژندګلوۍ نوم یاد شوی دی.
ددې آیة پرمخ په انساني ټولنه کې لومړنۍ اړتیا د پېژندګلوۍ ده او دویمه اړتیا د تقوی، تقوی ته هغه مهال اړتیا لیدل کېږي، چې انسان خپل ځان وپېژني.
تقوی یوازې پرهېزګارۍ ته نه وایي، بلکې نور اړخونه هم لري، په دې هکله کولای شو د قرآن کریم ددویم سورة یعنې د البقرې سورة په دویم او دریمو آیتونو کې د متقي انسان کړه وړه وپېژنو چې وایي:

(هغه څوک چې پر غیب باندې ایمان لري، لمونځ ادا کوي او صرفه وي د خدای تعالی په لیاره کې خپل خواږه چې یې لري.) د تقوی د دې بنسټیزې د پېژندنې له مخې که چېرې په ځیر سره وګورو، پوره پوهېدلی شو چې له پېژند ګلوی نه پرته تقوی څه ارزښت نه شي لرلی.
نو له دې کبله موږ باید ومنو چې لومړی پېژند ګلوي ده او بیا تقوی، دا ځکه چې پېژند ګلوي په کونیه چارو او تقوی په قدریه چارو پورې تړاو لري، یعنې کله چې یو چا خپل ځآن وپېژانده، د ځان د پېژندنې سره جوخت خپل پنځوونکی هم وپېژني، کله چې یې خپل خالق وپېژانده، په هماغه مهال کې ورته د تقوی د اړتیا خبره ور د مخه کېږي، څو د خالق او مخلوق په وړاندې د درنښت د دریځ خاوند شي.
د پورتنیو څرګندونو پرمخ ویلای شو، چې په انساني ټولنه کې هر انسان لره لومړنۍ پېژند پاڼه د هغه د پوټکي د رنګ ده، دا رنګ دی چې هغه په انساني ټولنه کې د انساني ټولنې د څلورو رنګونو له ډلې څخه د یوه رنګ د ډلې د یو غړي په توګه ور پېژني، نو ځکه د انسانانو د پوټکو په رنګونو کې بدلون رامینځته شوی او همدارنګه د انسان لپاره په انساني ټولنه کې

د هغه د توکميزې پېژندنې په هکله هم د بنې سره جوخت دا د ژبې بدلون هم دی، چې د هغه د پېژندنې د دويمې پېژند پانې په توګه د منبت ځای او دريځ موندلی او دا ژبه ده چې انسان د جلا بڼې د لرلو سره په يوه جلا توکميزې ډلې کې د يوه جلا توکم په څېر ور پېژني، يعنې رنګ او بڼه د انسان لومړنۍ او ژبه د هغه دويمه پېژند پانه ګڼله کېږي، چې د لومړنۍ پېژند پانې له مخې د انساني ټولنې د غړي او په خپل ټبر کې د جلا بڼې د خاوند په توګه او د دويمې پېژند پانې له مخې په انسانيټولنه کې د يو جلا توکم په توګه د جلا ژبې د څښتن په څېر پېژندل کېږي، څرنګه چې مو ولوستل د انسانانو په بڼو او ژبو کې اختلاف د لوی خدای د خلقت له سترو نښو څخه ګڼل شوی، نو په دې بنسټ هيڅ يوه ژبه پر بلې ژبې قدسيت او سپېڅلتيا نه لري، د هرې ژبې سپېڅلتيا د هغې ژبې په روزنې، پالنې او لمانځنې پورې تړاو لري، که چا خپله ژبه ښه وروزله، ښه وپالله او ښه ونمانځله، هغه ژبه د نورو ژبو په کتار کې د سپېڅلتيا وړتيا مومي، ددې ټکي په پام کې لرلو سره بايد ووايو چې به بڼو او ژبو کې اختلاف په انساني ټولنه کې د هر انسان لپاره د پېژندنې د څرګنده نښو په څېر کولای شو وګڼو، دا په دا چې که چېرې په

ښځو او ژبو کې اختلاف نه وي رامینځته شوی، نو په انساني ټولنه کې به هیڅ یوه انسان له بل انسان سره د پېژندنې توپیري نښې نه لرلې او ټوله انساني ټولنه به په یوه ښځه او یوه ژبه راښکاربدله، چې دا کار د خلقت له حکمت او فلسفې سره په هیڅ توګه سمون نه لري، لکه څرنګه چې په دې ځای کې د حکمت او فلسفې نوم هم یوازې او یوازې پر (پېژندنې) اطلاق مومي، کوم چې د پېژندنې موخه هم د پنځ پنځونه ده، چې راپنځول شوی.

د ځمکې پر مخ چې څومره انسانان راپنځېدلي، یا د نن څخه وروسته راپنځېږي، هغوی ټول د ښځو او ژبو له مخې وېشل شوي او مختلف راغلي، چې لاپسې به هم په همدې توګه لا راځي.

د ګڼو مختلفو ژبو او مختلفو ښځو د شتوالي کیسې چې هر چا اورېدلي او لا اوس هم هر څوک یې د اورېدلو سره جوخت لیدلی هم شي، یو هم زموږ په سیمه کې د پښتون ولس ژبه ده، دغه ژبه چې (پښتو) نومېږي، د ویونکیو شمېره یې ځینې څلوېښت او ځینې لا پنځوس میلیونه ګڼي، که د ویونکیو دا شمېره هرڅومره وي؛ وي به، خو څه چې د اند ښښنې وړ خبره ده، هغه د پېژند پانګې ده، د پېژند پانګې په موښه د ځمکې پر مخ لا تر اوسه پورې هیڅا

د پښتون په نامه ملي پېژند پاڼه نه ده لرلې، لا يې هم نه ده اخيستې او اوس هم سره ددې چې د لومړي ځل لپاره د ځمکې پر مخ د پښتونخوا نوم يو ځل بيا را ژوند شوی، خو هغه هم د (خيبر) د نوم په مختاړي سره، ښايي هيڅ يوه پښتو ته به د پښتون په نامه ملي پېژند پاڼه ورنه کړي او دغه نوم نه يوازې دا چې مونږ ته لا هم د ژبې له مخې کومه پېژند پاڼه چې بايد ولرو، نه شي راکولی چې ددې توان هم نه لري، ځو ټول پښتانه د پښتون په نامه د پېژند پاڼې ښتن وګرځوي، ترڅو چې په ټوله پښتونخوا کې ټول پښتانه سره يو موټی نه شي او د يو واحد سياسي، فرهنګي، اقتصادي او ټولنيز مرکز خاوند ونه ګرځي، ترهغې به پښتنو ته د پښتون په نامه ملي پېژند پاڼه ترلاسه نه شي، دی (خيبر پښتونخواه) نوم که څه هم د لومړي ځل لپاره د سياسي واحدونو د نومونو په لړ کې راغلی يو نوم دی، چې په دوو بېلو بېلو نومونو لوستل کېږي؛ لکه (خيبر) او (پښتونخوا).

د پښتون ولس لپاره لکه څنګه چې يې هر کله سپېڅلتيا لرلی او د لمانځلو وړ وو، نن او سبا به هم پښتانه دغه نوم ته په درنه سترګه وګوري او هغه به د پاللو سره جوښت د لمانځلو وړ هم

وګرځوي، زموږ ننۍ خوښي زما په اند د راتلونکي بشپړې پښتونخوا د جوړېدا په لوري د خوښيو د پيل د ټکي په توګه د ملاتړ او ستاينې وړ دريځ وساتي.
هيله ده ددې لياري د غورځنګ غښتلي مشرانو ته مولوی خدای تعالی لا پسې د پرمختګ سيک او توان وبښي، څو په سيمه کې پښتون ولس ته خپل حقه حقوق چې د لوی خدای په کونيه او قدريه چارو کې ورته ښنل شوي دي، د ځمکې پر مخ هم ورو سپاري او په دې توګه ټول پښتون ولس د خپلې ژبنيزې پېژند پانې د څښتن کېدلو سره جوښت؛ لکه د نورو ولسونو خپله ژبه د روزلو پاللو او لمانځلو له مخې د نورو ولسونو د ژبو په کتار کې د سپېڅلتيا تر دريځه ورسوي، د هغې ورځې په هيله، ژوندي دې وي پښتانه، ودان، ښېرازه او سر لوړي دې وي پښتونخوا.
مبارز (څاپی)
بن - جرمني
۲۰۱۰/۱۲/۲

# د خیر او ښېګڼو سمبول

**که ګلان وکرئ د ژوند د سر درو په څوکو**
**زه به یې سیل له درځم د جګو غرو په څوکو**

دا وه د اروابناد (ستوري) د زړه آواز، هغه آواز چې د ځمکې پرمخ د لومړي انسان نه نیولي تر وروستي انسان پورې هر کله هر چېرته او په هره ژبه کې د هر چا له خوا را اوچت شوی او لا اوچتېږي به.

هو ! د ځمکې پر مخ چې کله انسان پنځېدلی او مېشت شوی، د انساني ټولنې د ژوند او ژواک د سوله ایزه او ښکلا ایزه او نیاومنه چاپېریال د رامینځته کېدنې، څارنې او ساتنې په موخه هر کله، په هر ژبه او بیا هر انسان ته د خیر او ښېګڼو لیارښوونه شوې ده، دا که د لوی څښتن په هدایاتو کې وي او که د زمانې د پوهانو او عالمانو په ویناوو کې.

د اسلام د سپېڅلي دین په هدایاتو او لیارښوونو کې یوه خبره دا هم راغلې ده، چې وایي: (الباقیات الصالحات)

ژباړه: (څه شی چې پاتې کېږي هغه ښېګڼې دي)

زموږ په پښتو ژبه کې هم لا یو متل شته چې وایي: (خپل عمل د لیارې مل دی.)
د خیر او ښېګڼو د اندونو د پراخې دودیدنې په هڅو کې د پښتو ژبې پوهان او شاعرانو هم ډېرې خوږې او په زړه پورې وېناوې کړې دي؛ لکه چې غیب اللسان شاعر حضرت عبدالرحمان بابا وایي:

کر د ګلو کړه چې سیمه دې ګلزار شي
اغزي مه کره چې پښو کې به دې خار شي

رحمان بابا چې په پښتنې ټولنې کې زېږېدلی، را لوی شوی او شاعر شوی، د خپلې ټولنې کړه وړه یې له نژدې څخه لیدلي، څارلي او شعوري غبرګون یې هم ورته ښودلی دی، دا داسې برېښي، چې پښتون ولس د رحمان بابا په مهال کې هم لکه د اوسني مهال په څېر په خپلو سیمو کې به د ګلونو پرځای اغزي کرل او هر چا به هر چېرته د هر رنګه ازغنو اندونو او دودونو په ودې ورکولو کې نه ستومانه کېدونکې هلې ځلې کولې، د رحماان بابا د غبرګون په څېر اروابناد (ستوري) هم د پښتنو اوسنیو ازغنو او کرغېړنو دودونو د له مینځه وړلو په لیاره کې

لا له پښتونخوا نه ډېر لرې په اروپا کې هم خپله چیغه پورته کړې او ویلی دی چې:

که ګلان وکرې د ژوند د سر درو په څوکو
زه به یې سیل لره درځم د جګو غرو په څوکو

لکه چې مې وویلې، دا هغه چیغه ده چې څو پېړۍ پخوا د رحمان بابا له خولې نه هم راوتې وه، توپیر دا دی چې رحمان بابا په خپل ولس کې مېشت وو او د خپل ولس په مینځ کې یې خپل ولس ته بلنه ورکړې، چې د ازغنو دودونو په بدل کې د محبت او یووالي د ګټور ژوند زړي وکرې.

څو سیمه مو د محبت په ګلونو ګلزار او د یووالي په زرغونتیا ښېرازه شي، چې اروا ښاد (ستوري) هم همدغه بلنیزه غږ لا له پښتونخوا نه ډېر لرې په اروپا کې اوچت کړې او د هر یوه پښتون او پښتنې نه یې غوښتې دي، چې که تاسې ددې او سنیو ازغنو اندونو او دودونو پرځای په خپلو سردرو کې د ورورولۍ، د قومي یووالیو او د سیمې د ښېرازۍ په موخه د محبت ګلان وکرئ، نو هغه ورځ به لرې نه وي، چې زما په څېر به ډېر نور پښتانه هم د ښو او ګټورو پوهنو، کسبونو او کمالونو سره یو ځای له اروپا او امریکا او د ځمکې له نورو لرې سیمو

څخه د پښتونخوا په لوري د جګیو او لوړو غرونو پر سرونو راوالوزي او راشي.
اروا ښاد (ستوری) که په ژوندانه کې په دې بریالی نه شو، چې خپله پښتونخوا له ګلونو ډکه ووینې، خو د جنازې تابوت یې په ښه شانداره لمانځنو او په سترو بدرګه ایزو مراسمو کې د ډېرو لوړو غرونو پر څوکو له اروپا نه د پښتونخوا ښکلې سردرې (کنړ) ته د قامي وحدت د سمبول په توګه ولېږدول شو، هغه چې په خپل پلرني هېواد، په پلرني کلي کې خاورو ته وسپارل شو، د مور نه دعا غوا ړي، د خیر دعا، د ښښنې دعا او د جنتونو دعا، د هغو جنتونو دعا چې د لوی خدای د لوري د پښتون ولس لپاره په آخرت کې جوړ شوي دي.
د داسې دعاوو سره سم دا هم زموږ په دنده کې شمېرل کېږي، چې اروا ښاد (ستوری) هېر نه کړو او د خپلو یادونو د ذهنونو څخه یې ونه باسو، د اروا ښاد انساني اړخ ته چې د خیر او ښېګڼو وروولئ او د ټول پښتون ولس د یو موټي کېدلو په لیاره کې یو غټ سمبول ګڼل کېږي، د تل لپاره د منښت، د درناوي سره سم د هغه د یاد لمانځنه هم وکوو.

په داسې حال کې چې پښتانه لا هم د ژبې، فرهنګ، اقتصاد او خپلواکۍ له پلوه د پردیو یرغلونو لاندې سلګۍ وهي او لا هم پښتانه له پوهنیزه، روزنیزه او د خدای ورکړلیو شتمنیو څخه بې برخې، وېشلي او تالا ترغې پاتې دي.
دغه لامل زموږ هر پښتون او پښتنې نه غواړي چې د یو موټي کېدلو، په خپل هېواد کې د خپلې ژبې او فرهنګ د واک تر لاسه کولو او په دې توګه د اقتصادي او سیاسي خپلواکۍ د لاسته راوړلو په لیاره کې چې د اروابناد (ستوري) سوچه ارمان ګڼل کېده، لا له پخوا نه زیات هلې ځلې وکړي، څو د زمانې د غوښتنو سره سم خپل هېواد او ولس د ښېرازۍ او سمسورتیا په درشل کې ودرولی شو، ددغې موخې ته د رسېدلو په لیاره کې دغه څو ټکي باید په پام کې ولرو:
۱. د ملت د جوړېدنې، روزنې او پالنې په هوډ په خپلې ملي ژبې باندې سمباله، یو غښتلی سیاسي ګوند کې یو موټی او ځواکمنه کېدل.
۲. په سیمه کې د هغه واکمنه دود پاله سیاست بنسټ، له بنسټه نړول، چې غواړي پښتانه لا پسې وېشلي، تالا او ترغې وساتي.

۳. د هغې ذهنیت پر ضد کلکه مبارزه کول، چې غواړي پښتانه د خپلې پښتو ژبې پرځای د اردو او د پارسۍ ژبو په لورې بوځي. که غواړو چې په یوویشتمه پېړۍ کې ژوندي پاتې شو ، دغه پورتني درې ټکي چې د اروابناد (ستوري) د ژوند تګ لیاره هم ګڼل کېدله، د خپل د ژوند د تګ لیارې په توګه وټاکو او پرې ټینګ ودرېږو.

نور نو تاسې او دستاسې سیاسي پوهه، بری د لوی خدای له لوري دی.

مبارز (ځاپي)

بن –جرمني ۲۰۰۷

## جلالتماب ښاغلی زلمی (خلیلزاد)

سلام او ښې چارې!
هیله ده چې روغ، جوړ، هوسا، بسیا، نېکمرغه او بریالی اوسئ!
اجازه راکړه چې ستاسې د نوي دندې په هکله تاسو ته د زړه له کومې مبارکۍ وړاندې کړم، زه د یو افغان په توګه چې کله ستاسو نوم اورم او ستاسو له دندو خبرېږم، ډېره ډېره خوښي راته په برخه کېږي او داسې انګېرم، چې ګڼې دا دی تاریخ یو ځل بیا مولانا جلال الدین بلخي یا سید جمال الدین افغان و انساني نړۍ ته وړاندې کړ، نن دغه اند ماته دغه توان هم راوبانښه چې تاسو ته دغه لیک ولیکم او ستاسو پام دغو څو ټکیو ته راواړوم:
۱. سید جمال الدین په هند او ټبر (عرب) و، که مورنی ژبه یې پښتو او د پښتنو په سیمه کې زېږېدلی و، خو هغه خپلې ټولې لیکنې په پارسو ژبې کړي او له دې لامله پارسیان یې خپل بولي، مګر خپله سید جمال الدین لکه څنګه چې د هغه د لیکنو څخه برېښي، د اسلام په نامه د عربي امپراطورۍ د بیا راژوندي کېدلو په لیاره کې په سیاسي مبارزو او هلو ځلو بوخت پاتې

شوی و ، يعنې هغه نه دي افغان لپاره څه غوښتي او نه د
پارسيانو لپاره څه ويلي.
۲. سيد جمال الدين که د هډ له مخې (عرب) او د زېږېدنې له پلوه
پښتون و ، خو په خپله په خپلو ليکنو کې د پارسي ژبې او
فرهنګ ته د متعهد په توګه ډېر زيات خدمت کړی دی.
۳. دا چې سيد جمال الدين افغان په پښتو ژبه څه نه دي ليکلي،
نو ځکه د پښتني ادب په نړۍ کې د هغه لپاره کوم ځای او دريځ
نه شته.
پښتانه هم نه شي کولای هغه د يو پښتون په نامه وپېژني او پرې
وياړي، دا پارسيان دي، چې کولای شي د هغوی د ليکنو د
ژبې پر مخ هغه يو پارسي ژبی او خپل وبولي او همدارنګه عربان
هم ځان مستحق ګڼلی شي، چې سيد جمال الدين هم د هډ او ټبر
له مخې او هم د هغوی د سياسي مبارزو له لوري يو عرب وګړی
او د اسلامي نړۍ د يو ستر شخصيت په توګه وپېژني او پرې
وياړي.
۴. د سيد جمال الدين په څېر زموږ په سيمه کې يو بل غښتلی
انسان هم زېږېدلی دی، چې هغه ته مولانا جلال الدين بلخي

وايو، مولانا هم په هڼ او تېر کې (ترکي) و، خو په ژبه کې پارسو او په زېږېدو بلخي ګڼل کېږي.
دا چې نومورى په پارسي ژبې او ادب کې تر هر پارسي ژبي ډېر خدمت کړى، نو له دې لامله پارسيان حق لري هغه د خپل ولس د غښتلي شخصيت په توګه ومني، چې لا مني يې هم.
خو د الماني پروفيسورې مېرمن اناليزى (شيمل) په وينا: مولانا جلال الدين بلخي د بلخ ولايت د (وخش) په کلي کې زېږېدلى دى، چې اوس دغه د وخش کلى د تاجکستان په توابعو کې پروت دى، که د نومورې پروفيسورې دغه وينا د سند په توګه ومنل شي، نو مولانا بايد د زېږېدنې د ځاى لامله تاجک وګڼل شي؛ نه افغان، دا ځکه چې د مولانا په بيوګرافي کې د پروفيسورې (شيمل) له خوا د بلخ ولايت د توابعو څخه د اوسني تاجکستان د سهيلي سيمې يوه برخه هم شامله ګڼله شوې او دا هم ويل شوى دى، چې کله چې مولانا وزېږېده، په دې مهال کې د بلخ ولايت ټوله سيمه په غور کې د سوريانو د واکمنۍ د قلمرو يوه برخه وه.
**٥**. د سيد جمال الدين او مولانا جلال الدين کيسه خو په تاريخ پورې اړه لري.

زما اند ېښنه دا ده، چې زمونږ افغانانو يعنې پښتانه مؤرخين به
د تا پـه هکله څه ووايي؟ او څه به وليکي؟ دا پـه دا چې د
افغانستان تاريخ ته به د ستاسو د سياسي او اجتماعي
دريځونو پـه هکله او دا چې تاسو د امريکايي امپراطورۍ د لا
پراختيا پـه لياره کې د هلو ځلو ملا تړلې ده، يو څه به ووايي.
خو پـه فرهنګي اړخ کې د ژبې پـه هکله هرڅه نارونبانه دي، يعنې
تراوسه پورې ما نه دي اوربدلي چې ګني تاسو به پـه پښتو ژبه
هم کوم کتاب ليکلی يا ژباړلی وي؟ خو پښتانه تا خپل وګڼلی
شي، ښايي پاړسيان به هم لکه د پښتنو پـه څېر پـه تيارو کې پاتې
وي.
۲. د قرآني آياتونو له مخې هر انسان پر ژبه او هڅه پېژندل کېږي،
خو د پوهې او تقوا له مخې درنښت مومي، نو پوښتنه دا ده چې
تاسې به د ژبې او هڅه له مخې پـه کومه انساني ټولنه کې وشمېرل
شي؟ يعنې مولانا جلال الدين او سيد جمال الدين د ژبې له اړخه
پاړسيان و، خو د هڅه او ټبر له پلوه يوه يې (ترکي) او بل يې
(عرب) و، نو تاسو ته به راتلونکی تاريخ څه ووايي؟ ښايي د
ژبې له مخې به پـه انګرېزانو پورې وتړل شئ، مګر د هڅه او ټبر
خبره مو لا ګونګه او نارونبانه پاتې ده، کېدای شي تاسې به

وو ایئ چې، د زېږېدلو ځای مو افغانستان دی، نو افغان یاست، دا خبره ټیک ده، خو د هغې اساسي قانون له مخې چې ستاسو په سماسمو پاملرنو په کابل کې ومنل شوه، افغانان په مختلفو قومي او اتنیکي ډلو ټپلو ووېشل شول، چې ناسمه برېښي. ددغو پورتنیو خو ټکیو په یادولو ستاسو پام لا هغې کتاب ګوتې متن ته هم را اړوم چې مې د دین ژبه او ملت په نامه لیکلی او ددې لیک په ملتیا مې درو استاوه.

په خورا درناوی

مبارز (ځاپی)

بن –جرمني

۲۸ / ۵ / ۲۰۰۷

# پرانستی لیک

کله چې د سیاسي روزنې په نامه د ښي لاسو او کیڼ لاسو په رامینځته کېدلو او جوړېدلو سره جوښت هغوی ته د سیمه ایزو او نړۍ والو سترو ځواکونو له خوا د زور ازمایلو په ډګر کې د پیسو سره سره د اور وروونکو او انسان وژونکو وسلو د ور رسولو اشارې هم وشوې.

بیا نو دغو کیڼ لاسو او ښي لاسو ډلو د بهرنیانو د وسلو او پیسو د لاسته راوړلو په سیالۍ کې د ښو، وژونکو هوډونو په شعارونو ککړو کړنو کې د خپل ځان، د قوم، د ولس او د هېواد تاریخ ته داسې شرموونکې ښې ښانې پرېښودلې، چې سار یې هیڅکله هم د ځمکې پرمخ چېرته چا نه دی لیدلی او لا نه دی اورېدلی، دغو کیڼ لاسو او ښي لاسو ډلو ددې پرځای چې د بهرنیانو پر وسلو او پیسو د هېواد بهرنې دښمنان او غلیمان ووژنې، هر یو یې تر هر څه دمخه د په نامه انقلاب د دښمنانو په تور په خپل کور کې خپل وروڼه، خور، مور او پلار او بیا په کلي او ګاونډ کې خپل تره، د تره زوی، ترور، د ترور زوی، تورې، د تورې زوی، تربور او داسې نور خپل خپلوانه ووژل.

سربېره پر دې خپل کور، کلي، ښار او وطن يې هم د بهرنيانو د ځواکونو د پښو په ګردونو کې ډوب او بيا يې د هغوی په ورانوونکو او وژونکو بمونو هرڅه له بنسټه بل مخې واړول، يعنې چا د لوېديځو هېوادونو پر وسلو او ځواکونو، چا د ختيزو هېوادو پر وسلو او ځواکونو او چا هم د ګاونډيو هېوادونو پر وسلو او ځواکونو داسې ورانې او ويجاړتياوې رامينځته کړلې، چې اوس د بيا رغولو او جوړولو توان يې نه يوازې د دغو ورانکارو، جنايت کارو له لاسه پوره نه دی، چې د هغوی د بادارانو له وسې هم پورته ښکاري.
دغو او داسې نورو ناوړو زړه بوږنوونکو پېښو ته په پام چې انساني تاريخ هر کله د دارنګه ډلو نه کرکه ښودلې او غندنه يې هم کړې، د افغان هر سوله خوښه وګړي په دې اند او درېغ ولاړ دی، چې په افغانستان او په سيمه کې او سنۍ انسان دښمنه جګړه ييزه کړنې که هغه د لوېديځو هېوادونو او که د ختيځو هېوادونو يا که د ګاونډيو هېوادونو له خوا وي، د منلو څه چې لا د زغملو وړتيا هم نه لري، لا چې په کرکجنه توګه غندل کېږي هم؛ لکه څنګه چې تېرو درې لسيزو وښودله، چا چې له تشدد نه کار واخيست، په غبرګون کې يې تشدد وليد، چا چې ماران

وساتل، خپلو مارانو وچیچل. هغوی چې په افغانستان او په سیمه کې د انسان په دښمنۍ اوربل کړی وو ، په هغه اور کې په خپله وسوځېدل او وراسته شول. همدارنګه هغوی چې په ډېر غرور او تکبر سره اشغالګره یرغل کړی وو ، په خپله په کې مات او تالا ترغې شول.

په پښتو کې متل دی، چې: (په زور کلي نه کېږي ) ، هو ! موږ ولیدل هغوی چې په یرغلیزه توګه د بمونو په ورولو غوښتل سوسیالیم پلي کړي، نه یوازې دا چې سوسیالیزم پلی نه شو ، چې خپل له غروره ډکې ککرۍ یې هم په کې وبایللې او د تل لپاره د تاریخ د کندې استوګن شول.

د هغوی نه وروسته دا دی څه د پاسه اته کاله کېږي، چې پر افغانستان باندې د دیموکراسۍ د پلي کولو په هوډ او د تروریزم د ځکولو په نامه د لوېدیځې نړۍ په سر کې د امریکې متحده ایالاتو له تشدد نه ډک یرغل هم ترننه پورې چې د بېرحمه جګړې او د بېوزله انسانانو د وژلو او د کلي او کورونو له ورانولو نه پرته بله کومه ګټه نه ده لرلې، په بې دلیله او بې منطقه توګه د لېونتوب په کچه دوام لري.

دغې او داسې نورو له تشدد نه ډکو اشغلګریو نه داسې بریښي،
چې نړیواله ستر ځواکونه هر چېرته له تاوتریخوالو نه ډکې ستونزې
او لانجې پنځوي او بیا هلته په پرله پسې توګه خپل نظامي
خواکونه استوي، دا چې دوی له دې کاره څه ترلاسه کوي، یا
څومره ګټورې پایلې خپلې لمنې کې رانغاړي؟ په دې هکله ښایي
امریکایانو ته د ویتنام او شوروي اتحاد ته د افغانستان پېښې په
ځواب کې څرګندې بېلګې ولري، هر کله چې د تاریخ په شهادت په
هیڅ یوه هېواد کې هیڅکله هم په بمونو او بمباریو چا د
دموکراسۍ نظام نه دی پلی کړي، لا چې څوک یې پلی کولای هم نه
شي.
همدا رنګه هیڅکله هم تر اوسه پورې چا په ځان وژنه او ترهګره
هوډونو په کومه خاوره کې اسلامي نظام نه دی پلی کړي، نو له دې
کبله موږ په سیمه او افغانستان کې له ټولو متنازعه اړخونو څخه
په کلکه توګه غواړو چې خپلو جګړه ایزو موخو او هوډونو کې بیا
کتنه وکړي او پرېږدي، چې په دې سیمه کې ددې سیمې
اوسېدونکي په خپله خوښه او په سوله ایزه توګه خپل سیاسي نظام
یا ژوند دود وټاکي.

مبارز (ثاپی)

بن -جرمني

١٨/ ٤/ ٢٠٠٩

# روښانیان

د روښاني نهضت په هکله لوی استاد علامه حبیبي صیب د پښتو ادبیاتو تاریخ د کتاب په (۷۷۴) مخ کې داسې لیکي:
د پیر روښان سیاسي جهاد او مبارزې په دریو ټکیو ولاړ دي:
۱. له ظلمه او له ظالمانو کرکه او نفرت.
۲. له مغلو سره عدم موالات او اجتناب.
۳. سربازي او عدم تسلیم.
پر دغو دریو ټکیو د پیر روښان ټول لارویان، نر وو او که ښځې ټینګ ولاړ وو.
لوی استاد د کتاب په همدې مخ کې له مغلو سره عدم موالات او اجتناب تر عنوان لاندې داسې لیکي:
د اوسني عصر د سیاست په میدان کې هم له دې کاره ډېره استفاده کېږي او که یوه ټولنه وغواړي د نورو له ظلمه او اسارته ځانونه خلاص کړي، نو دوی له سره خپل د همکارۍ او معاونیت او موالات روابط، قطع کوي او دې ته په سیاسي اصطلاح (NON COOPRATION) د هندوستان د آزادي خواهانو یوه وسله د انګریز په مقابل کې هم دغه وه.

عجیبه دا ده چې تر ګاندهي د مخه پیر روښان د پښتونخوا په غرونو کې د مغلو پر خلاف هم له دغې وسلې څخه کار اخیست او خپل مسلکي پیروان یې ټول له مغلو سره عدم موالات او نه همکاري امر کول.
دا وه د لوی استاد د لیکنې لنډ نچوړ، د لوی استاد په اند د روښاني غورځنګ له بنسټه د عدم تشدد غورځنګ وو.
چې زه هم د دغې دریځ ملاتړ کوم، دا ځکه چې د هر الاهي استازي دیني مبارزه او تبلیغ د عدم تشدد په اصولو پیل او تر پایه رسېدلی دی، دا که د حضرت بودا، حضرت نوح، حضرت ابراهیم، حضرت موسی، حضرت عیسی او که د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم په ادیانو پلي کېدل وو.
په دې توګه ویلای شو، چې د پیر روښان غوځنګ ټول په ټوله د الهي احکامو په رڼا کې سمباله غورځنګ وو، چې دا سې غورځنګونو ته هیڅکله او هیڅوک د تیارو غورځنګ نه شي ویلای، که څوک یې وایي هغه ارو مرو د شیطان د وسوسو ښکار ګرځېدلی دی.

مبارز (څاپی)

بن-جرمني، ۱۳ / ۷ / ۲۰۱۰